**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

## ډارن خلک به هېڅکله ارام نشي!

د ۲۰۱۹م کال د اګیسټ پر ۱۹مه د نړۍ د شپږم لوی پوځ مشر جنرال باجوه درې کاله نور هم د پوځ مشر شو. په دې اړه لومړي وزیر داسې وویل: «دا پرېکړه د سیمه ییز امنیتي چاپېریال له کبله شوې ده.» په اوسني سیمه ییز امنیتي چاپېریال کې چې د امریکا او هند تر سیوري لاندې دی، هغه څوک د مسلمان ځواکمن لښکر د مشرۍ وړتیا لري، چې د الله سبحانه و تعالی او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له اوامرو سره سم په سیمه کې امنیت ټینګ کړي. ارزښتمن جنرال هغه څوک دی، چې په مستعمره کشمیر کې د مسلمانانو اوښکې پاکې کړي. په کشمیر کې په چټکۍ سره امنیت راولي، خپل زړور عسکر حساس جنګ ته واستوي او له هغه وروسته د سرینه ګر ښار په برې کې د خلافت له بیراغ سره د تکبیرنو خواږه اوازونه یو ځای پورته کړي. د پاک لښکر پاک جنرال هغه کس دی، چې په پرله پسې بریاوو سره خپل لښکر د هند د نیمې وچې لوړې څوکې ته ورسوي. دا په هغه رښتیني مسلمان جنرال پورې اړه لري، چې په ډېرې چټکۍ سره افغان طالبان له ظالمو ځواکونو سره په هغو خبرو اترو کې له دوکې او فریب څخه خبر کړي، هغه ظالم ځواکونه چې له شرمونکې ماتې او بشپړ وتلو څخه په وېره کې دي. باجوه د یوې سیاسي معاملې هڅه کوي، چې په سیمه کې د متحده ایالتونو نظامي ځواک ځای پر ځای کړي. یوه زړور مسلمان جنرال ته ښایي، چې له افغان طالبانو څخه په ټینګه ملاتړ وکړي او په پوره توان سره یې د جهاد خیر او ښېګڼې ته راوبولي؛ ترڅو د الله سبحانه وتعالی د دین لپاره د دوی د وینو او پولادو په بدل بشپړه بریا تر لاسه کړي. پرهېزګار جنرال په پوره توګه د ډیموکراسۍ د سازمانونو له ملاتړ څخه ځان ایستلی شي، هغه سازمانونه چې خلک یې د IMF او پانګوال کفر تر ډېرو لاندې ټوټه کړي. همدارنګه دا جنرال به د هغه څه ملاتړ کوي، چې الله سبحانه وتعالی رالېږلي دي او خلک به یې له هغو ټولو شیانو ګټه پورته کړي، چې الله سبحانه وتعالی پاکستان ته ورکړي دي. په حقیقت کې به موږ د امت د زمریانو لپاره د یوه وړ جنرال شاهد وو. رسول صل الله علیه وسلم فرمایي:

**«إِذَا وُسِّدَ الأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ»**

(بخاري)

***ژباړه:*** *کله چې چارې له وړ کسانو پرته نورو خلکو ته وسپارل شي، نو بیا د قیامت لپاره په تمه شئ.*

**اې د پاکستان د وسلوالو ځواکونو زمریانو!** کله چې رښتینی جنرال خالد بن ولید د مرګ پر بستر پروت و، داسې یې وویل:

**«لقد شهدت مئة زحف أو زهاءها، وما في جسدي موضع شبر إلا وفيه ضربة بسيف أو رمية بسهم أو طعنة برمح، وها أنا ذا أموت على فراشي، حتف أنفي، كما يموت البعير فلا نامت أعين الجبناء»**

**ژباړه** *ما په سلګونو جګړو کې برخه واخیستله او په بدن کې مې داسې ځای نشته چې د تورې، نیزې او غشي داغ یې نه وي لیدلی؛ خو زه نن ورځ پر خپل بستر باندې د زوړ اوښ په څېر مرم او ډارن خلک به هېڅکه ارام نه شي.*

اې د سیف الله وارثینو! د نبوت پر تګلاره د خلافت د پروژې لپاره د حزب تحریر مخلصو دعوتګرو ته نصرت ورکړئ او په دې توګه د لوی اسلامي امت د دین ملاتړ وکړئ؛ ځکه تاسو داسې جنرالان لرئ، چې په رښتیا هم ستاسو د قوماندې وړتیا لري او د سپېڅلې بریا او شهادت لپاره ستاسو مشري کولای شي.

**د حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۱٤٤۰ / ۷۷**

**۱۴۴۰هـ.ق کال، د ذوالحجې ۱۹مه**

**۲۰۱۹م کال، د اګېسټ ۲۰مه**